# بانک The Bank

میاشتنی | Monthly | ماهنامه

۲۱۵ گڼه - ۱۴۴۶ ذوالحجة الحرام - ۱۴۰۴ غبرگولی




## حکومت داری مؤثر و ظرفیت دولت در رشد و توسعهٔ اقتصادی

**Afghanistan Institute of Banking and Finance Officially Reopened**

مالي شــــمولیت څنګه په منځنۍ آســــیا کې فرصتونو او ننګونو ته کولو ته لاره پرانیزي

د افغانۍ ثبات د افغانستان بانک د هلو ځلو ترڅنګ، زموږ د ګران ولس د همکاریو په پایله کې رامنځته شوی دی او په راتلونکي کې به هم په دې برخه کې ګډې هڅې وکړو.






**د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک**

**کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق**

**سرلیکوال: شفیق الله بارز**



د افغانستان بانک رئیس د چین له سفیر سره پر مالي او بانکي همکاریو خبرې وکړې ١

انستیتوت مالی و بانکی افغانستان بار دیگر گشایش یافت ٢

د شخړې په مخنیوي کې د اغېزناکې اقتصادي تګلارې رول ٣

افزایش قیمت طلا از سوی بانکهای مرکزی و سرعت دالرزدایی ٥

د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې د بهر میشتو هېوادوالو د عوایدو رول ٨

بررسی راهکارهای رشد و توسعهٔ اقتصاد روستایی در افغانستان ١٢

حکومت داری مؤثر و ظرفیت دولت در رشد و توسعهٔ اقتصادی ١٥

اقتصادي خبرونه ١٧

مالي شمولیت څنګه په منځنۍ آسیا کې فرصتونو او دندو رامنځته کولو ته لاره پرانیزي ١٩

دو پول، دو سرنوشت نگاهی به ارزش پول ملی افغانستان ٢٢

اسلامي مالي نظام او ځانګړتیاوې یې ٢٥

Afghanistan Institute of Banking and Finance Officially Reopened ٣٠

DAB Governor, Chinese Ambassador Meet on Financial and Banking Collaboration ٣١



**مسئول مدیر: انور الله حیات**

**خبریالان: سید خالد خالقیار او زاهد الله احمدي**

**ډیزاین: خالد احمد فیضي**

**فوتوژورنالیست: زیرک ملیا**

**د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی**

د چاپ شمېر: ١٢٠٠ ټوکه

کال: اوولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ٦٥٨

ټليفون: ٠٠٩٣٠٢٠٢١٠٤٧٦١

فکس: ٠٠٩٣٠٢٠٢١٠٠٣٠٥

برېښناليک: magazine@dab.gov.af

ويب پاڼه: www.dab.gov.af

٢١٥



د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچينې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



# د افغانستان بانک رئیس د چین له سفیر سره پر مالي او بانکي همکاریو خبرې وکړې

۱۴۴۶ ذوالحجة الحرام ۴ مه - د افغانستان بانک رئیس ښاغلي نور احمد آغا د چین هېواد له سفیر ښاغلي جاو شینګ سره په لیدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د مالي او بانکي همکاریو پر پراخېدو خبرې وکړې.

په دې لیدنه کې ښاغلي نور احمد آغا چین د افغانستان یو ښه او مهم ګاونډی یاد کړ او په اقتصادي برخو کې یې د دغه هېواد له همکاریو څخه مننه وکړه. نوموړي وویل، چې د افغانستان بانک په تېرو نږدې څلورو کلونو کې توانېدلی ترڅو له ګڼو نړۍوالو مالي او بانکي بنسټونو سره مؤثرې اړیکې رامنځته کړي، او ژمن دی چې دا اړیکې لا پسې پیاوړې او پراخې کړي.

ښاغلي نور احمد آغا د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړه، چې د افغانستان بانک هڅه کوي، ترڅو د مالي او بانکي سکتور په برخه کې تخنیکي همکارۍ زیاتې کړي، د پانګونې لپاره لا ډېر مناسب او خوندي چاپیریال برابر کړي، سوداګرۍ آسانه کړي، د ظرفیت لوړونې او نورو اړوندو برخو کې عملي اقدامات تر سره کړي.

د ښاغلي نور احمد آغا په خبره دا ټولې هلې ځلې د دې لپاره تر سره کېږي چې په کور دننه د پانګونې لپاره لا ډېره زمینه برابره شي، سوداګرو ته اړینې آسانتیاوې برابرې شي، غوره مالي او بانکي خدمتونه وړاندې شي او د هېواد ټولو برخو ته دا خدمتونه ورسول شي.

باید وویل شي چې په دې لیدنه کې د چین هېواد سفیر ښاغلي جاو شینګ هم له خپله اړخه د لا زیاتو همکاریو ډاډ ورکړ او څرګنده یې کړه چې چین غواړي د افغانستان په اقتصادي رغونه کې خپل مثبت رول ولوبوي. نوموړي زیاته کړه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې باید د همکاریو پر بنسټ لا پسې پراخې شي.

د یادونې وړ ده چې په دې لیدنه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي صدیق‌الله خالد هم ګډون درلود او د اړوندو تخنیکي موضوعاتو په اړه یې د غونډې له ګډونوالو سره بحث او خبرې وکړې.




# انستیتوت مالی و بانکی افغانستان بار دیگر گشایش یافت

٦ ذوالحجة الحرام ۱۴۴٦ – محترم صدیق الله خالد معاون اول د افغانستان بانک، انستیتوت مالی و بانکی افغانستان را مجدداً افتتاح نمود.

محترم صدیق الله خالد معاون اول د افغانستان بانک هنگام گشایش این انستیتوت بر اهمیت ارتقای ظرفیت در روند بازسازی و تعویض سکتور مالی و بانکی سنتی به اسلامی تأکید کرده، گفت که تأسیس این انستیتوت بخشی از برنامهٔ هدفمند د افغانستان بانک است؛ برنامه‌ای که هدف آن تقویت سکتور بانکی و غیربانکی، گسترش بانکداری اسلامی و فراهم‌سازی زمینه برای رشد و آماده‌سازی استعدادهای جوان می‌باشد.

وی افزود که این انستیتوت ضمن مساعد نمودن بستر رشد دوامدار مسلکی، اصول بین‌المللی بانکداری را معرفی و از تحقیقات علمی و سیاست‌گذاری‌های مربوطه پشتیبانی خواهد نمود. وی گفت که از طریق ایجاد هماهنگی، مشارکت و شبکه‌سازی، روحیهٔ مسئولیت‌پذیری مشترک تقویت می‌گردد و مهارت‌ها و توانایی‌های لازم برای کارکنان سکتور بانکی و غیربانکی فراهم می‌شود.

در این مراسم نمایندگانی از ادارهٔ حمایت از سرمایه‌گذاری قرضه‌های کوچک (مسفا) و اتحادیهٔ بانک‌های افغانستان نیز سخنرانی نمودند و ضمن ابراز خرسندی از ایجاد دوبارهٔ این نهاد، تأکید کردند، که این اقدام یک دستآورد مهم در جهت تقویت نهادهای مسلکی سکتور مالی و بانکی کشور میباشد.

شایان ذکر است، که پس از گشایش دوبارهٔ این انستیتوت، نخستین دور آموزشی آن رسماً آغاز گردیده که در این برنامهٔ آموزشی کارمندان بانک‌های تجارتی، مؤسسات تمویلات مالی کوچک، صرافی ها و سایر نهادهای مرتبط شامل اند. هدف این دورهٔ آموزشی، ارتقای ظرفیت، بلند بردن سطح دانش مالی و آشنایی با معیارهای جهانی و روش‌های نوین علمی عنوان شده است.

# د شخړې په مخنیوي کې د اغېزناکې اقتصادي تګلارې رول

هغه ورته سناریوګانې چې د ماشیني زدکړې پر بنسټ د شخړې وړاندوینې رانغاړي، د لوی اقتصاد د ثبات او ودې د لوړېدو د هڅو په ګډون د مخنیوونکو تګلارو سترې ګټې په ګوته کوي.

د لوی اقتصاد تګلارې کولای شي د وسله والو شخړو په مخنیوي کې مهم رول ولوبوي او په خپل وار د انساني مرګ ژوبلې، جبري بې ځایه کېدو او کډوالۍ او اقتصاد ته د پراخو زیانونو د اوښتو مخنیوی وکړي.

دا موضوع د پیسو نړۍوال صندوق د نوې څېړنې له مخې روښانه شوې چې د ماشیني زدکړې پر بنسټ د تګلارو د مشابه کولو په توګه د شخړې وړاندوینې رانغاړي. د دې څېړنې موندنې ښیي چې د پالیسۍ د هڅو له لارې د لوی اقتصاد د ثبات او ودې د زیاتېدو، د بنسټونو پیاوړي کولو او د سیمه ییزې ټولنې د پرمختګ د ملاتړ په برخه کې د مخنیوي په موخه لګول شوی هر ۱ امریکایي ډالر کولای شي د شخړې اړوندو لګښتونو کې له ۲٦ امریکایي ډالرو څخه تر ۱۰۳ امریکایي ډالرو پورې وسپموي. په دې کې د لویو بشري اړتیاوو او د اقتصادي تولید د زیان لګښتونه هم شامل دي.

څرنګه چې د اونۍ چارټ ښکاره کوي، دا سپماوې په ځانګړې



توګه په هغو لوړ خطر لرونکو هېوادونو کې د پام وړ دي چې د تاوتریخوالي وروستیو پېښو ځخه کړېږي.

**سالمې اقتصادي تګلارې د شخړې په مخنیوي او د لویو لګښتونو په سپمولو کې مرسته کولای شي**

د اقتصادي فرصتونو رامنځته کول چې کولای شي د سولې او ثبات له بهیر سره مرسته وکړي، تر بل هر وخته مهم دي. د سویډن د اوپسالا پوهنتون د شخړو د معلوماتو پروګرام راپور له مخې، تېر کال د دولتي شخړو کچه په تېرو پنځوسو کلونو کې تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلې وه. همدارنګه، د غیر دولتي تاوتریخوالي پېښې هم په لوړه کچه کې دي. په دې شرایطو کې، د پیسو نړیوال صندوق د هغو هېوادونو پر وضعیت ډېر تمرکز کوي چې له بې‌ثباتۍ یا شخړو ځخه اغېزمن شوي دي او دا هڅې د یوې ځانګړې ستراتیژۍ له لارې پر مخ وړي.

د پیسو نړیوال صندوق وروستۍ څېړنه ښیي چې د کورني لوی اقتصاد د تګلارو درې ساحې په ځانګړې توګه په کمو لګښتونو سره د شخړې د خطر په کمېدو کې اغېزناکې دي:

- سالم مالي وضعیتونه او د دولت ښه شوی ظرفیت: د شخړو خطر هغه وخت کمېږي، کله چې حکومتونه له خپلو لګښتونو ځخه ډېر عواید راټولوي او د عامه خدمتونو د ښه والي او اقتصادي پرمختګ لپاره زیاتې پیسې کاروي.
- د کار یو انعطاف منونکی بازار او د انعطاف منونکي اقتصاد نورې نښې: هر کله چې د بېکارۍ کچه لوړه وي، د تاوتریخوالي احتمال او شدت زیاتېږي؛ ځکه که چیرې خلک دندې ولري، نو د وسلو کارولو احتمال یې کم وي.

د دولت د ظرفیت لوړولو لپاره نړیوال تعامل: دا شننه ښکاره کوي چې له اړمنو هېوادونو سره د پیسو نړیوال صندوق مالي ملاتړ د تاوتریخوالي د پېښېدو احتمال له ۰.۰۱۵ ځخه تر ۰.۰۰۴ سلنې پورې راکمولای شي. په بل عبارت، د لوی اقتصاد ملاتړ کولای شي د سولې د ټینګښت هڅې بشپړې او پیاوړې کړي.

د شخړو د مخنیوي ګټې په هغو ځایونو کې تر ټولو زیاتې دي چې تاوتریخوالی په کې تر اوسه په بشپړ ډول ځرګند شوی نه وي، پالیسي جوړوونکو لپاره د شخړو د مخکینۍ خبرتیا د سیستمونو پراختیا ډېره مهمه ده. دا کار په ځانګړې توګه په ثبات نه لرونکو هېوادونو کې اړین دی چې ټولنیزې اندېښنې او خطرونه پکې ښایي په زیاتېدو وي، خو تر اوسه کم لیدل کیږي.

دا موندنې نه یوازې د بې ثباتۍ د له منځه وړلو لپاره د ښه طرحه شوو اقتصادي تګلارو او د ظرفیت لوړونې پروګرامونو اهمیت په ګوته کوي، بلکې په هغو هېوادونو کې چې له بې‌ثباتۍ سره مخ دي، د وسله والو شخړو د رامنځته کېدو خطر هم کمولای شي.

**لیکوالان:** راپیل ایسپینوزا، هانیس مویلر او کرسټوفر راو

**ژباړه:** فاتح الله صافي، د افغانستان بانک د ژباړې د بورډ غړی

---

سرچینه:

1- Bousquet, F., Bisca, P. M., Rauh, C., & Seimon, B. (2025, March 13). *How sound economic policy can help prevent conflict*. International Monetary Fund. https://www.imf.org/en/Blogs/Articles/2025/03/13/how-sound-economic-policy-can-help-prevent-conflict



# افزایش قیمت طلا

## از سوی بانکهای مرکزی و سرعت دالرزدایی

(این مقاله ازویب سایت من گروپ ترجمه شده است.)

**خرید بی‌سابقه طلا توسط بانک‌های مرکزی نشان‌دهنده تغییر ستراتیژی ذخایر ارزی و نشانه‌های از تضعیف سلطه دالر آمریکایی است.**

هفته گذشته قیمت طلا به بالاترین سطح خود رسید. در حالی که بخش عمده‌ای از خریدها از سوی سرمایه‌گذاران نگران که به دنبال دارایی‌های مصئون هستند، صورت گرفته است. اما یک عامل کلیدی دیگر نیز وجود دارد: بانک‌های مرکزی در حال خرید طلا در سطوح بی‌سابقه‌ای هستند که این پدیده تا حدودی به دلیل دالرزدایی یعنی حذف دالر از چرخه اقتصاد جهانی برمیگردد.

با تغییرچشم‌انداز ژیوپولیتیکی، بانک‌های مرکزی در حال افزایش خرید شمش های طلا برای تنوع بخشیدن به ذخایر ارزی خود هستند که ناشی از نگرانی‌های فزاینده نسبت به وابستگی به دالر آمریکا است.

در تلاش برای درک صعود طلا، ظهور یک جهان چند قطبی و غروب احتمالی دوران صلح آمریکایی "پکس آمریکانا"؛ درک تاریخچه دالر آمریکا و نقش آن به عنوان ارز ذخیره مهم است.

**شکل ۱: قیمت طلا به رکورد جدیدی رسیده است**




**منبع: بلومبرگ، ۲۸ آپریل ۲۰۲۵**

برای دهه‌ها، دالر آمریکایی ارز غالب در تجارت بین‌المللی و ارز اصلی ذخیره جهانی بوده و است. کسر قابل‌توجه حساب جاری دولت آمریکا، سایر کشورهای جهان را قادر ساخته است تا دالرهای مورد نیاز برای تسهیل تجارت را به دست آورند.

یک نظرسنجی شورای جهانی طلا در سال ۲۰۲۴ نشان داد که نزدیک به ۷۰ درصد از بانک‌های مرکزی قصد دارند طی پنج سال آینده سهم طلا را در ذخایر خود افزایش دهند که نشان دهنده یک تغییر عمدی به سمت کاهش ذخایر دالر آمریکا در مواجهه با خطرات فزاینده ژیوپولیتیکی و مالی است. نکته مهم این است، که این افزایش خرید شمش های طلا نه تنها به کشور های که در تضاد منافع ایالات متحده هستند، محدود است بلکی طیف وسیعی از کشورها را در بر میگیرد. سه خریدار برتر طلا در سال ۲۰۲۴ لهستان، ترکیه و هند بودند. به هر صورت، دالر آمریکا همچنان سنگ‌بنای تجارت و امور مالی جهانی است، و توقع نمی شود که به این زودی‌ها جایگاه خود را به‌عنوان ارز ذخیره جهانی از دست بدهد.

**شکل۲: تقاضای ربعوار طلا توسط بانک‌های مرکزی (برحسب تُن)**




**منبع: شورای جهانی طلا- ۳۱ دسامبر ۲۰۲۴**

بانک‌های مرکزی تا چه اندازه می‌توانند طلا بیشتری بخرند؟ در حال حاضر، طلا حدود ۱۸در صد از تمام ذخایر جهانی را تشکیل می‌دهد، اما اگر دارندگان بزرگ غربی مانند ایالات متحده، آلمان، فرانسه و ایتالیا را حذف کنیم، این رقم به تنها ۱۱ در صد کاهش می‌یابد. با وجود خریدهای رکوردشکن اخیر، سهم طلا از ذخایر جهانی همچنان نزدیک به پایین‌ترین سطح خود در چند دهه گذشته باقی مانده است. در دهه ۱۹۵۰، طلا بیش از ۷۰ در صد از ذخایر جهانی را تشکیل می‌داد. اگر بانک‌های مرکزی بخواهند به سطوح تاریخی گذشته نزدیک شوند، هنوز فضای قابل توجهی برای انباشت بیشتر طلا وجود دارد.

**مترجم: محمد فاروق تسل**

عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک

---

**منبع:**

**Man Group. (2025, April 29).** *Views from the floor: Gold's enduring appeal*. Man Group. https://www.man.com/insights/views-from-the-floor-2025-april-29

د افغانستان بانک د خپلې ژمنې له مخې، چې له ګرانو هېوادوالو سره یې کړې وه، په سوداګریزو بانکونو کې پر امانتونو لګول شوې محدودیتونه کم کړي دي. اوس کولای شئ له خپلو حسابونو څخه د پخوا په پرتله زیات مبلغ تر لاسه کړئ.

| انفرادي حسابونه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | د حساب ډول | په یوه اونۍ کې د پیسو ایستلو کچه | | په یوه میاشت کې د پیسو ایستلو کچه | |
| | | مخکې | اوس | مخکې | اوس |
| ۱ | افغانۍ | ۱۵۰,۰۰۰ | ۳۵۰,۰۰۰ | ۵۰۰,۰۰۰ | ۱,۰۰۰,۰۰۰ |
| ۲ | ډالري | ۲,۰۰۰ | ۵,۰۰۰ | ۶,۰۰۰ | ۱۵,۰۰۰ |

| شرکتي حسابونه ( د سلنې پر بنسټ ) | | |
|---|---|---|
| سلنه | | په داسې حال کې چې دا اندازه باید له ۲۰ میلیون افغانیو یا ۳۰۰ زره امریکایي ډالرو څخه زیاته نه وي. |
| مخکېنۍ | اوسنۍ | |
| ۱۰٪ | ۲۰٪ | |

یادښت: په هغو انفرادي حسابونو کې چې تر ۲ میلیون افغانیو یا هم ۳۰ زره ډالرو او هغو شرکتي حسابونو کې چې تر ۳,۵ میلیون افغانیو او یا هم ۵۰ زره امریکائي ډالرو کمې پیسې موجودې وي، په یادو حسابونو باندې هیڅ ډول محدودیت نشته.

همدارنګه هغه هېوادوال چې په سوداګریزو بانکونو کې تر لس میلیون افغانیو یا یوسل او پنځوس زره امریکایي ډالرو نغدي تضمینونه لري، کولای شي د مراحلو تر بشپړولو وروسته خپلې پیسې تر لاسه کړي. دا پیسې د پورته جدولونو په پام کې نیولو سره سم د اجرا وړ دي. دا مبلغ تر دې مخکې یوازې تر پنځه سوه زره افغانیو پورې د ایستلو وړ وو.



# د هېواد په اقتصادي پر مختګ کې د بهر میشتو هېوادوالو د عوایدو رول

په هر هېواد کې اقتصادي وده او پر مختګ د لوی اقتصاد له اصلي موخو څخه حسابيږي. لکه څنګه چې بهرنۍ پانګونې، بهرنۍ مرستې او د صادراتو لوړ والی د هېواد پر اقتصادي ودې او پراختيا مثبتې اغيزې لري، همدارنګه د بهر ميشتو افغانانو عوايد چې د مستقيمې بهرنۍ پانګونې څخه وروسته دويمه ستره او مهمه بهرنۍ عايداتي سرچينه ده، هم کولای شي چې د هېواد پر اقتصادي ودې مثبتې اغيزې ولري. د يو هېواد لپاره يې د بهر ميشتو وګړو عوايد يوه مهمه او دوامداره مالي سرچينه بلل کيږي او ښايي چې په هغه هېواد کې د بې وزلۍ په کمولو او د اقتصادي ودې په رامنځته کولو کې د پام وړ اغيزې ولري.

ځينې وختونه کېدای شي چې ياد عوايد د هغه هېواد د رسمي عوايدو يا هم د مستقيمې بهرنۍ پانګونې د مالي جريانونو په پرتله هم زيات شي.

ټولې هغه لاسته راوړنې او اداينې چې د يو ټاکلي مالي کال په اوږدو کې د يوه هېواد لخوا صورت مومي دا ټول په اقتصادي راکړو ورکړو کې شامل دي. د کاري ځواک عوايد هم د هغو ټولو اقتصادي راکړو ورکړو يوه مهمه برخه ده چې د يوه هېواد په خالصو کورنيو توليداتو، ملي ناخالص عايد او د اداينو بيلانس په توازن کې مثبت رول لوبوي.

د بهر ميشتو وګړو د عوايدو لېږدونې چې بهر ته د کډوالو د



دایمي او مؤقتي تگ راتگ پایله ده د اداینو بیلانس او د پیسو نړۍوال صندوق په وروستۍ نسخه کې داسې تعریف شوي:
کله چې کډوال د خپلو کورنیو د ملاتړ لپاره له خپلو عوایدو څخه یوه برخه، چې په بهر کې یې د اقتصادي فعالیتونو په پایله کې ترلاسه کړي دي، د نغدو پیسو یا هم توکو په بڼه خپلو کورونو ته را استوي، دا لیږدونې د کارگرانو یا هم کډوالو د کاري ځواک د عوایدو په نوم پیژندل کیږي.

د پیسو نړۍوال صندوق بهر ته او له بهر څخه هېواد ته د عوایدو لیږد رالیږد دا ډول ډلبندي کړی: جاري لیږدونې، پانگه ییزې لیږدونې، خصوصي یا شخصي لیږدونې او د کاري ځواک د عوایدو لیږدونې. دا ټولې یو اړخیزه لیږدونې دي، ځکه چې د لیږد جریان یې یو لوري ته دی او په بل لوري کې د اتومات معکوس جریان یا د بیرته اداکولو مسئولیت نشته ځکه دا لیږدونې د پور په بڼه نه ورکول کیږي.

هغه عواید چې د بهر میشتو وگړو لخوا خپلو هېوادونو ته استول کیږي د اداینو بیلانس په چوکاټ کې په لاندې ډول ډلبندي شوي دي:

د اوږد مهاله استوگنې پر بنسټ د کاري ځواک لیږدونې: په دې لیږدونو کې د هغو کارکوونکو یا کډوالو عواید شامل دي چې په پر له پسې ډول (له یوه کال څخه زیاته موده) په یوه نوي اقتصاد کې استوگن او پیسې تر لاسه کوي او خپل هېواد ته یې استوي.

د لنډ مهال استوگنې پر بنسټ د کاري ځواک لیږدونې (موسمي یا د سرحدي کارکوونکو لیږدونې): په دې لیږدونو کې د هغو کارگرانو د کار عواید شامل دي چې په مؤقتي ډول د پولې هاخوا گاونډیو هېوادونو کې د لنډې مودې لپاره د موسمي کارکونکو په څېر کار او پیسې تر لاسه کوي.

لکه څنگه چې معلومه ده د لوړ عاید لرونکي هېوادونه لکه امریکا، سعودي عربستان، سویس، جرمني، متحده عربي امارات او نور تل د نړۍوالو پیسو اصلي سرچینې دي. د شته راپورونو له مخې د امریکا متحده ایالات په ۲۰۲۲ کال کې د ۷۹.۱۵ میلیارد ډالرو په ارزښت د پیسو لیږدوونکی هېواد وو. ورپسې سعودي عربستان ۳۹.۳۵ میلیارد ډالره، روسیې ۳۱.۹۱ میلیارد ډالره، سویس ۲۵.۶۰ میلیارد ډالره، جرمني ۱۸.۲۶ میلیارد ډالره، ایټالیا ۱۷.۷۴ میلیارد ډالره او فرانسې ۱۵.۵۱ میلیارد ډالره استولي وو. متحده عربي امارات هم چې په نړۍ کې د لسو لومړنیو لیږدوونکو هېوادونو په ډله کې دی، په ۲۰۲۲ کال کې د ۱۲.۲۹ میلیارد ډالرو لیږدوونکی وو.

سربېره پر دې، هغه هېوادونه چې د لوړ عاید ترلاسه کوونکو هېوادونو له ډلې څخه دي په هغو کې هندوستان، چین، مکسیکو، فلیپین، فرانسه، نایجریا، جرمني او داسې نور شامل دي.

د چین هېواد (چې د نړۍوال بانک لخوا د منځني عاید لرونکي هېواد په توگه ډلبندي شوی) هم د نړۍوالو پیسو یوه مهمه سرچینه ده چې په ۲۰۲۲ میلادي کال کې یې ۱۸.۲۶ میلیارد ډالره استولي وو. د همدې کال په اوږدو کې هندوستان، مکسیکو، چین، فلیپین او فرانسه د پیسو ترلاسه کوونکي پنځه لومړني هېوادونه وو، که څه هم هند تر ټولو مخکښ وو او له ۱۱۱ میلیارد ډالرو څخه یې زیاتې پیسې ترلاسه کړې، مکسیکو بیا دوهم لوی هېواد وو چې ډېرې پیسې یې تر لاسه او په ۲۰۲۱ کال کې له چین هېواد څخه مخکې شو. فرانسه، پاکستان، بیلجیم، بنگلادیش او جرمني په ۲۰۲۲ کال کې د نړۍ په ۱۰ غوره هېوادونو کې پاتې شول.

همدا راز د نړۍوال بانک د راپور له مخې د امریکا متحده

ایالات د نړۍ په کچه د هغو هېوادونو په سر کې دي چې د نړیوال کاري ځواک عواید لېږدوي او په ۲۰۲۳ کال کې د بهرنیو پیسو ټول جریان یې ۸۵.۸ میلیارد ډالرو ته ورسید. سعودي عربستان په نړیواله کچه بیا دریم او په عربي نړۍ کې دویم ځای لري. په داسې حال کې چې په همدغه کال کې کویت په نړیواله کچه لسم او په عربي نړۍ کې بیا دریم ځای لري. قطر وروسته له عربستان څخه د ۱۱ میلیارد ډالرو په لېږدولو سره په څلورمه رتبه کې او متحده عربي امارات د ۸ میلیارد ډالرو په لېږدولو سره بیا په دریمه رتبه کې وو. همداراز، د نړیوال بانک د راپور له مخې هند په ۲۰۲۳ کال کې د ۱۱۹.۵ میلیارد ډالرو په ارزښت د هغو هېوادونو په لست کې لومړی ځای لري چې تر ټولو زیات د کاري ځواک عواید یې ترلاسه کړي، ورپسې مکسیکو د ٦٦.۲ میلیارد ډالرو او بیا چین د ۴۹.۵ میلیارد ډالرو په لرلو سره په سر کې ځای لري. نړیوال بانک په خپل راپور کې څرګنده کړې چې د منځنی ختیځ او شمالي افریقا سیمې ته د پیسو بهیر په ۲۰۲۳ کال کې ۱۵ سلنه کم شوی او ۵۵ میلیارد ډالرو ته رسیدلی چې بنیادي لامل یې مصر ته د پیسو په جریان کې چټک کمښت ښودل شوی.

د ادواینو بیلانس ورته احصائیې او معلومات ښیي چې له هېواده بهر د افغان کډوالو له لوري خپلو کورنیو ته د رالېږل شویو مبالغو سقف په کلنۍ ډول د کورني ناخالصه تولید ۲.۹ سلنه جوړوي. خو دا چې کارګران د خپلو پیسو د لېږدولو لپاره له غیر رسمي لارو (د حوالې سیستم) څخه ګټه اخلي، کیدای شي د پورته ذکر شوو ادارو په څېړنو کې د دغو ارقامو د واقعي ارزښت ډېر ټیټ تخمین کیږي. خو د پیسو د رااستوونکو هېوادونو لخوا د ترسره شویو څېړنو پر بنسټ، افغانستان ته د کډوالو کارګرانو لخوا د رااستول شوو عوایدو مجموعي مبلغ کېدای شي زیات وي. په هر صورت، افغانستان ته چې کومې پیسې د رسمي او غیر رسمي لارو څخه راځي دا پیسې د هېواد ملي ناخالص عاید زیاتوي. نو ویلای شو چې د افغان کډوالو عواید د افغانستان د ملي ناخالص عاید د کچې په زیاتوالي کې د پام وړ رول لري.

## د کاري ځواک د عوایدو اهمیت

په بهر کې د هېواد د وګړو د کاري ځواک ډېروالی او هېواد ته د هغوی لخوا راتلونکي عواید د کورنۍ تقاضا د لوړوالي او د کورنیو لګښتونو د ملاتړ سبب کیږي او له بل لوري د پانګه ییزو لېږدونو تر څنګ کولای شي په ګټورو تولیدي سکتورونو کې د پانګونې د تمویل سرچینه وبلل شي، او ورسره د بهرنیو زېرمو په پیاوړتیا او د تبادلې د نرخ په ثبات کې مثبت رول ولوبوي. خو بلخوا که چیرې په هېواد کې د دې عوایدو لپاره د جذب ظرفیتونه محدود وي نو دا عواید بیا د تقاضا او عرضې د عدم تعادل او بلآخره د انفلاسیون د رامنځته کیدو سبب کیږي، نو په داسې حال کې هېوادونه اړ دي چې د کاري ځواک عوایدو، وارداتو، بهرنیو مرستو او بهرنیو مستقیمو پانګونو په پیژندلو سره د ودې مؤثرې پالیسۍ رامنځته کړي. دا پالیسۍ کولای شي چې د هرې پانګه ییزې سرچینې د ښه والي او د پرمختیایي اهدافو لکه (د فقر کمښت، د کارموندنې او زیربنایي پراختیا) د لاسته راوړلو لپاره ښه په کار واچول شي.

لکه څنګه چې د کاري ځواک د عوایدو لیږدونه د ډیرو پرمختللو هېوادونو په اقتصاد کې خورا مهم رول لري، همدارنګه افغانستان ته د کاري ځواک د عوایدو راتګ د کورنیو او له هغې لارې د هېواد ملي اقتصاد ته د پام وړ اقتصادي ګټه رسولای شي.

## اقتصادي وده (د ملي ناخالص عايد د کچې لوړوالی)

د افغان کاري ځواک عوايد، چې د هېواد پر اقتصاد ځرګنـدې اغېزې لري، هغه عوايد رانغاړي چې د افغانستان وګړي يې له نړيوالو سرچينو څخه ترلاسه کوي او يـوازې د هـېـواد دنـنـه مصرفېږي. ملي ناخالص عايد د يوه دقيق اقتصادي شاخص په توګه کارېدلای شي، څو د بهرنيو هېوادونو څخه د افغان کډوالو د کاري ځواک اغېزې پر اقتصـاد وارزول شي. دا بـه مـوږ تـه روښانه او ګټورې پايلې راپه برخه کړي، او د پاليسۍ جوړونې او ستراتيژيکو پرېکړو لپاره به يو ارزښتناک بنسټ چمتو کړي.

## د سوداګرۍ د بيلانس د کسر تمويل

ځرنګه چې ځرګنده ده، افغانستان د توليد په برخه کې د مـالي او تخنيکي سرچينو له کمښت سره مخ دی، او دا وضـعـيـت د هېواد په بهرنۍ سوداګرۍ کې د سوداګرۍ د بيلانس ژور کسر ته لاره هواروي. په هر حال، په بهرنيو هېوادونو کې مـېـشـت د افغانستان د وګړو کاري ځواک کولای شي چې تر يوې انـدازې د دې کسر د کمولو سبب شي.

له همدې امله ويلای شو چې د هغو سرچينو له ډلې څخه، چې افغانستان ته له بهر څخه د مالي منابعو د برابرولو زمينه برابروي او د سوداګرۍ د کسر بيلانس د اصلاح ظرفيت لري، يـو مـهـم مورد د بهر مېشتو افغانانو کاري عوايد دي. دا هغه عـوايـد دي چې دوی يې د خپلې مزدورۍ له لارې ترلاسه کوي او بـيـا يـې افغانستان ته رااستوي، چې له امله يې د ملي اقتصاد لپاره يـوه مهمه تمويلي سرچينه برابرېږي.

## د عايداتي سرچينو پراختيا

افغانستان د زېربناوو د محدودوالي، د توليد په بـرخـه کـې د مالي او تخنيکي سرچينو د کمښت او اقتصادي فرصتونو تـه د نه لاسرسي له امله، د هغو هېوادونو له ډلې څخه شمېرل کېږي چې له پراخ عايداتي ضعف سره مخامـخ دي. د سـوداګرۍ د بيلانس ژور کسر او پـراخـه بـې وزلي ښـيـي چـې مـوجـودې سرچينې د ټول نفوس اړتياوې نشي پوره کولی.

له همدې امله، د هېواد د وګړو يوه برخه، خـپـلـې بـنـسـټـيـزې اړتياوې د نړيوالو مرستو او هغو مالي عوايدو له لارې پوره کوي چې افغان وګړي يې له بهر څخه د کار په بدل کې ترلاسه کـوي او هېواد ته يې استوي. ياد عوايد وروسته د سوداګرۍ لـه لارې په هغو توکو بدلېږي چې افغانستان ته واردېږي، او په دې ډول د وګړو د اړتياوو د پوره کېدو لامل ګرځي.

نو ويلای شو، چې انساني ځواک، په ځانګړي ډول بهر مـېـشـت افغان کډوال، د افغانستان د عايداتي سرچينو د پراخـېـدو يـوه مهمه برخه جوړوي. دوی خپل لاسته راوړل شـوي عـوايـد پـه مستقيم يا غيرمستقيم ډول خپلو کورنيو ته انتقالـوي، چـې لـه همدې امله دغه پيسې د ملي ناخالص عايد د لـوړوالي سـبـب ګرځي، د سوداګرۍ د کسر د بيلانس د جبران پـه بـرخـه کـې مرسته کوي او د مالي سرچينو پراخېدو ته لاره هواروي.

**ليکوال: ولي الله روحي**

**د افغانستان بانک د بهرني سکتور شنونکی**

---

**سرچينې:**

1- د افغانستان پر اقتصاد د بهر مېشتو افغان کډوالو اغېز: ليکوال: حسين سخي زاده

**2- Khan, M. A. (2024).** *Global connections: Examining the role of remittances in economic development*. ResearchGate. https://www.researchgate.net/publication/378093425_Global_Connections_Examining_the_Role_of_Remittances_in_Economic_development

**3- OneMoneyWay. (n.d.).** *Remittance*. OneMoneyWay. Retrieved July 2, 2025, from https://onemoneyway.com/en/dictionary/remittance/

**4- MoneyTransfers. (n.d.).** *Remittance statistics: Trends and data by country*. MoneyTransfers. Retrieved July 2, 2025, from





# بررسی راهکارهای رشد و توسعهٔ اقتصاد روستایی در افغانستان

**مقدمه**

در چند سدهٔ اخیر و با رشد پر شتاب صنعت و فنآوری در جهان، عقب ماندگی مناطق روستایی بیشتر عیان گردیده است. از آن جای که عموماً روستاییان نسبت به شهر نشینان دارای درآمد کمتری هستند و از خدمات اجتماعی ناچیزی برخوردار هستند، اقشار روستایی فقیرتر و آسیب پذیرتر محسوب می شوند که بعضاً منجر به مهاجرت آنان به سمت شهرها نیز می شود. رشد اقتصاد روستاییان بالای رشد اقتصادی افغانستان اثر گذار بوده که با توجه جدی به روستاها، فراهم نمودن زمینهٔ سرمایه گذاری و ایجاد فرصت های کاری می توان به هدف "خود کفایی اقتصادی" رسید. اکثریت نفوس افغانستان در روستاها زندگی می کنند، این در حالی است که زمینهٔ کار و اشتغال زایی در روستاها نهایت کم است، اگر کار هم وجود دارد سطح درآمد نهایت پائین است. دسترسی به خدمات اجتماعی و بهداشتی در روستاها در سطح نامطلوب قرار دارد. به اساس تنوع جغرافیایی که افغانستان دارد، هر ولایت مزیت های نسبی خود در ایجاد زمینهٔ اشتغال زایی را دارا می باشد. بناءً موضوع توسعهٔ اقتصادی روستایی یک مسئلهٔ نهایت اساسی و مهم تلقی می شود. بدون تدوین برنامه های مؤثر که زمینهٔ رشد و توسعهٔ اقتصادی روستایی را مساعد می سازد، رسیدن به رشد و توسعه در سطح کشور دشوار است. برای رشد اقتصادی در کشور نیاز است که برنامهٔ

برای رشد اقتصاد روستاها هم وجود داشته باشد.

**ستراتیژی رشد اقتصادی با تأکید بر بخش زراعت**

بخش زراعت با توجه به اهمیت ستراتیژیکی آن در تغذیهٔ نفوس روبه افزایش کشورهای در حال رشد، همواره مورد توجه خاص بوده است. این نکته که نیاز غذایی در صدر عوامل وابستگی قرار دارد و بیشترین خطر را برای استقلال جوامع عقب مانده دربر دارد، مورد تردید هیچ انسانی که خود را مستقل فکر می کند نیست. هر کشوری که برای تغذیهٔ نفوس خود دست نیاز به سوی کشور دیگری دراز کند، خواه نا خواه زیر سلطهٔ آن کشور خواهد رفت.

از سوی دیگر، رشد اقتصادی در مراحل اولیه خود عمدتاً از طریق تکیه بر بخش زراعت و بالا بردن بهره وری این بخش و گسترش رشد از این بخش به سایر بخش های اقتصادی امکان پذیر بوده است. دسترسی کشورهای نفت خیز جهان به منابع عظیم مالی، این فکر را قوت میبخشد که میتوان بدون تکیه بر بخش زراعت و با استفاده از در آمد های هنگفت ناشی از صدور نفت، رشد صنعتی را تحقق بخشید. اما در عمل به جز کشور روسیه که آنهم با توجه به عوامل متعددی مثل موقعیت زمانی، شرایط خاص آن کشور بعد از انقلاب سوسیالیستی و تحمل بودجهٔ انسانی بسیار سنگین که هم اکنون اثرات آن در جوامع سوسیالیستی آشکار میشود، در آن کشور ها نمونهٔ مؤفق صد فیصد نبوده است.

چین و تایلند دو نمونهٔ مؤفق پلان رشد بر اساس تکیه بر بخش زراعت هستند. چینی ها میگویند:

"زراعت اساس کار است و صنعت عامل پیشبرنده است".

این نکته که زراعت اساس کار میباشد از این جهت که وابستگی به مواد غذایی وارداتی، خطرناکترین وابستگی اقتصادی است و بسیار پر معنی می باشد. بعضی از کشورهای در حال رشد نیز هستند که به علت عدم برخورداری از امکانات طبیعی برای زراعت، چاره ای ندارند، جز اینکه ستراتیژی رشد خود را بر اساس تکیه بر سایر بخش های اقتصادی تعیین کنند. در مقابل این کشورها، کشوری مثل کوریای جنوبی قرار دارد که زمانی از آن به عنوان منبع برنج یاد می شد، ولی امروز با تکیه بر ستراتیژی های رشد صنعتی، مجبور به وارد کردن محصولات غذایی است. کشور تایلند نمونهٔ موفق یک کشور در حال رشد بر مبنای بخش زراعت است.

**توسعهٔ روستاها از طریق مزیت های نسبی**

افغانستان کشوری است که تنوع آب و هوا در آن کاملاً مشهود است. آب و هوا از یک ولایت تا به ولایت دیگر حتی از یک روستا به روستاهای دیگر، متفاوت می‌باشد. مناطق مرکزی به دلیل مرتفع بودن دارای آب و هوای سرد و خشک است، قسمت‌های جنوب کشور تحت نفوذ آب و هوای موسمی قرار دارد، آب و هوای مدیترانه‌ای مناطق مشرقی کشور را زیر پوشش خود قرار می‌دهد و مناطق غربی کشور معمولاً تحت تأثیر آب و هوای گرم و خشک صحرایی قرار دارند. از سوی دیگر از نظر توپوگرافی، روستاهای کشور یکسان نبوده بلکه از مناطق کوهستانی، دره‌های عمیق، کوه‌های سر به فلک کشیده تا مناطق هموار و دشتی متغیر می‌باشند. این دو خاصیت در کنار هم، این کشور را در یک موقعیت منحصر به فرد قرار داده است. شماری از کارشناسان معتقد اند که داشتن آب و هوای مختلف و تنوع در توپوگرافی می‌توانند مشکل ساز باشند و بعضاً موانع تلقی گردد، اما حقیقت این است که ما در موقعیتی قرار نداریم که در مورد تغییر این دو پدیده تصمیم‌گیری نمائیم بلکه می‌توانیم با کمی دقت از این موقعیت به نفع خویش استفاده ببریم. در اقتصاد، اصلی وجود دارد که به قول «پل سامولسن» اساس و تهداب تمام انواع تجارت در خانواده، در کشور و میان کشورها را تشکیل می‌دهد و آن عبارت از اصل مزیت نسبی است. آب و هوای متنوع و وضعیت توپوگرافی ناهم‌گون کشور به هر روستا قابلیت‌ها و محدودیت‌های خاصی بخشیده است و این دقیقاً چیزی است که در اصل مزیت نسبی به آن نیاز داریم. در قدم اول باید روستاها را نظر به آب و هوا و وضعیت توپوگرافی به کتگوری‌های مختلف

تقسیم‌بندی نمائیم. در قدم دوم ارزیابی همه جانبه از هر کتگوری روستاها انجام گرفته تا مشخص گردد که در تولید کدام نوع تولید (زراعتی، صنعتی و خدماتی) از ظرفیت و کارآمدی بالاتری برخوردار است. به‌طور مثال؛ دایکندی در تولید بادام، قندهار در تولید انار، بدخشان در تولید سیب، بامیان در تولید کچالو و غیره... نظر به سایر ولایات از کارایی و ظرفیت بیشتر برخوردار می‌باشند و یا دارای مزیت نسبی هستند.

**ایجاد فرصت های کسب و کار کوچک**

کسب و کار کوچک یک راهکار خوبی برای توسعهٔ اقتصاد روستاها به شمار می رود، یکی از عوامل اساسی در سد راه سرمایه گذاری ها نبود سرمایه کافی برای سرمایه گذاری می باشد، با توجه به این مسئله نیاز است فعالیت های جستجو گردد که به سرمایهٔ اندک به راه انداخته شود. در هر ولایت افغانستان فرصت های زیادی سرمایه گذاری موجود می باشد که در صورت تأمین منابع مالی این امر محقق شده می تواند. ایجاد کارخانه های خیاطی، فارم های مرغداری، فارم های ماهی، فارم های گاو داری، کارگاه های کوچک صنایع دستی و غیره موارد از جمله فرصت های بالقوه رشد و توسعهٔ اقتصاد روستایی می باشد. در صورت برنامه های جامع از طرف دولت و راهنمایی و همکاری افراد روستاها از فرصت های موجود می توانند استفاده اعظمی شود. وجود نیروی انسانی ارزان و موجودیت مواد خام تحقق این اهداف را بیشتر مساعد می سازد. افغانستان یک کشور زراعتی بوده و اکثر مردم این کشور در روستاها به مالداری، باغداری و کشاورزی مصروف می باشند، در صورت حمایت دولت زمینه رشد و توسعهٔ اقتصادی روستاها مساعدتر خواهد شد. قابل یادآوری است که فرصت و امکانات رشد اقتصاد روستایی در افغانستان زیاد می باشد. در صورت حمایت دولت زمینهٔ رشد زراعت، باغداری و مالداری میسر می باشد. تنوع آب و هوا در افغانستان یک فرصت خوبی برای تولید محصولات مختلف زراعتی می باشد. هم چنان امکانات رشد صنایع دستی در افغانستان مساعد می باشد. در صورت دسترسی به سرمایهٔ اولیه و ارایهٔ آموزش های ابتدایی رشد صنایع دستی بیشتر مساعد می باشد. در زمینه رشد صنایع دستی نقش زنان برجسته تر بوده است، بر علاوه فرصت های کسب و کار کوچک هم در روستاهایی افغانستان مساعد می باشد.

**ترتیب کننده: عبدالله عرب**
**اقتصاددان زون شمال شرق**
**د افغانستان بانک**

**منابع و مأخذ:**

1. تانیا موری لیئ (2007). حکومتداری، توسعه و سیاست‌ورزی، دورهام، دانشگاه دوک.
2. تودارو، مایکل (1378) توسعه اقتصادی در جهان سوم، ترجمه غلام علی فرجادی، انتشارات موسسه عالی پژوهشی و برنامه ریزی توسعه تهران.
3. حیدری، علمداد (1400). نقش تامین مالی خرد در توسعه روستایی در افغانستان، فصلنامه یافته های اقتصادی.
4. دانیل هوت، آدام پین احسان‌الله غفوری (2016). مسیرهای معیشت در افغانستان: شواهدی از سه قریه در ولایت هرات، نشریه کاری شماره ۵۴ کنسرسیوم تحقیق معیشت ایمن/واحد تحقیق و ارزیابی افغانستان.
5. طالب، مهدی؛ عنبری موسی (1387) جامعه شناسی روستایی با تاکید بر ابعاد تغییر و توسعه در جامعه روستایی ایران. انتشارات دانشگاه تهران.
6. غرجستانی، محمد توسلی (1390). نقش توسعه روستایی در اقتصاد افغانستان.انتشارات اندیشه سازان هدایت.
7. مطیعی لنگرودی، سید حسن (1386) جغرافیای زراعت ایران-زراعت، انتشارات جهاد دانگشاهی مشهد.
8. موسوی، سعادت شاه (2021). اهمیت انکشاف روستایی و نقش آ در انکشاف ملی.

# حکومت داری مؤثر و ظرفیت دولت در رشد و توسعهٔ اقتصادی

باوجود اینکه میلیاردها دالر در زمینه تعلیم و تربیه، صحت و زیرساخت‌ها به مصرف می‌رسد، چرا هنوز بسیاری از کشورها برای دستیابی به نتایج واقعی توسعه با مشکل مواجه اند؟ آیا لازم است که مصارف افزایش یابد، یا باید این مصارف به‌گونه‌ی مؤثرتری مدیریت شوند؟

بانک جهانی مدت‌هاست که به نقش حیاتی حکومت داری خوب در تضمین مصارف مؤثر دولتی تمرکز کرده است. این موضوع در سال 1996، زمانی که جیم ولفینسون، رئیس اسبق بانک جهانی در بارهٔ "سرطان فساد" صحبت نمود، توجه بیشتری جلب کرد. گفتمان نوظهور در میان طیف اکادمیک و پالیسی‌سازان در عصر حاضر تأکید بر این دارد که تطبیق پالیسی به اندازه طراحی مصرف و پالیسی مهم است. به منظور بهبود مؤثر تطبیق پالیسی‌ها، لازم است که رویکرد معلومات محور و شاخصه‌های درست شناسایی شوند تا بتوانند پیشرفت را پیگیری کرده، تنگناها را آشکار نموده و اصلاحات بموقع را انجام دهند.

تا به امروز، پیشرفت قابل توجهی در زمینه تحلیل حکومت داری مبتنی بر معلومات حاصل شده است، از جمله برنامه‌های همچون شاخصه‌های جهانی حکومت داری (1996)، سروی‌های تصدی (1996) پروگرام مصارف عامه و حسابدهی مالی (2001)، پورتال بودجهٔ باز (2010) و سروی جهانی از کارمندان دولتی (2022)، آمادگی کسب و کار (2024) و بازبینی و ارزیابی نهادهای در سطح کشور، بدست آمده است.

با گذشت زمان، این تلاش‌های معلومات محور نیز تکامل یافته‌اند. بجای آن‌که دولت‌ها به عنوان مرجع واحد بررسی شوند، تمرکز در زمینه جمع آوری معلومات روی مطالعه هر نهاد دولتی که مسئول مصارف و تطبیق پالیسی‌ها اند، صورت گرفته است.

وزارت صحت عامه، ریاست‌های معارف و ادارات محلی همه در تبدیل بودجه‌ها به خدمات در میدان عمل نقش بازی می‌کنند. زمانی‌که روی این نهادها تمرکز صورت گیرد، واضح می‌شود که حسابدهی، شفافیت و ادارهٔ عامه کلید مؤثر برای نهاد بشمار می‌روند. اداره امور جهانی، برای پیشبرد این گفت‌وگو و عملی نمودن این ایده‌ها، اخیراً کنفرانسی با عنوان نهادهای عامه برای توسعه برگزار کرد. در این نشست، پالیسی‌سازان و اشخاص اکادمیک و علمی، از جمله کارتیک مورالیدهران، گرد



هم آمدند؛ وی بر ضرورت اصلاح نهادهای بخش دولتی تأکید کرد و آجندای روشنی در این زمینه ارائه نمود.

مورالیدهران می‌گوید که اصلاح نهادهای سکتور دولتی و توانمندسازی آنها به منظور ارائه خدمات به شهروندان می‌تواند مفادی تا 10 برابر بیشتر از مصارف اضافی به همراه داشته باشد، ادعای که روی تحقیقات گسترده در مورد کارمندان و نهادهای استوار است که مسئول ارائه تعلیم و تربیه، رفاه اجتماعی برای دهاقین، انکشاف اطفال و برنامهٔ تضمین اشتغال دهات در هند هستند.

تلاش‌های اصلاحی باید دقیقاً بر چه حوزه‌های متمرکز شوند؟ موراليدهاران حوزه‌های کلیدی را برای تمرکز دولت‌ها و پالیسی‌سازان پیشنهاد می‌کند. نخست، استفاده از تکنالوژی و معلومات برای بهبود جمع‌آوری درآمد؛ دوم، سنجش مستقل معلومات به‌منظور تعیین اهداف و ارزیابی عملکرد؛ سوم، تضمین ساختار مناسب پرداخت دولتی؛ و چهارم، رعایت مقررات یا عقد قرارداد با عرضه‌کنندگان خدمات سکتور خصوصی در جای که سکتور دولتی ضعیف عمل می‌کند.

این‌ها حوزه‌های اند که کارشناسان نهادها و حکومت داری در بانک جهانی روی آن‌ها کار می‌کنند تا از کشورهای عضو حمایت کنند. تلاش‌های ما شامل تدوین شاخصه‌های جدید به منظور جمع‌آوری معلومات در بارهٔ ابعاد مختلف حکومت داری و همچنان جزئیات به سطح نهادها پیرامون مصارف، استخدام کارمندان و طرزالعمل‌های ارزیابی ظرفیت در سطح نهادها می‌باشد.

برای پیشبرد این آجندا، به چه معلوماتی نیاز داریم؟ رِما هانا بر اهمیت انجام تحقیق در همکاری با نهادهای دولتی تأکید کرده است تا بتوان فهمید کدام اصلاحات واقعاً اثربخش و مؤثر اند. در حالی‌که بخش زیادی از تحقیقات علمی پیشین روی مطالعاتی به مقیاس کوچک متکی بوده که عمدتاً با مشارکت انجوها (نهادهای غیر دولتی) یا نهادهای خصوصی انجام شده‌اند. همکاری مستقیم با نهادهای دولتی این امکان را فراهم می‌کند که تأثیر اقدامات ترکیبی، تعامل میان پالیسی‌های دولتی و بازار خصوصی، شرایط محلی در نتایج پالیسی‌سازی به درستی بررسی و درک شود.

در جریان کنفرانس، کارشناسان نتایج تحقیقات جزئی و دقیقی را دربارهٔ چگونگی بهبود ساختار، شفافیت و پاسخگویی نهادهای دولتی، که مسئول تنظیم مقررات و تدارکات هستند، ارائه کردند؛ پژوهش‌های که به‌خوبی نشان‌دهنده ظرفیت قابل‌توجه این نوع مطالعات برای ارتقای عملکرد نهادهای دولتی بود.

در بسیاری از نقاط جهان، مصارف دولتی به دلیل ضعف نهادهای ناکارآمد، نبود مشوق‌های مناسب و فقدان نظام‌های کافی پاسخگویی، به نتایج مطلوب نمی‌رسد. اما پرداختن به این چالش‌ها، به‌ویژه با استفاده از معلومات جدید و تحقیقات پیشرفته، می‌تواند اثرگذار باشد و زمینه‌ساز اصلاحات نهادی شود که در نهایت به بهبود واقعی خدمات دولتی منجر می‌گردد. از این رو، تقویت ظرفیت‌های نهادی می‌تواند یکی از مؤثرترین راهبردها در مسیر بهبود و ارتقای ظرفیت باشد. در همین راستا، ادارهٔ جهانی نهادها در حال جمع‌آوری و شواهد لازم برای تحقق این هدف است.

**ترجمه**: سید آصف فکرت، عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک

---

منبع:

**World Bank. (2024, June 27).** *Effective governance and state capacity are key to economic development*. World Bank Blogs. https://blogs.worldbank.org/en/governance/effective-governance-and-state-capacity-are-key-to-economic-deve

## بانک مرکزی اروپا: یورو می‌تواند جایگزین دالر شود

کریستین لاگارد، رئیس بانک مرکزی اروپا، روز دوشنبه طی اظهاراتی اعلام کرد در صورتی که منطقه پولی یورو با 20 کشور عضو بتواند چارچوب‌های مالی و امنیتی خود را اصلاح کند، این ارز می‌تواند به گزینه‌ای قدرتمند در برابر دالر امریکا در جهان تبدیل شود. ماه گذشته، درحالی‌که نگرانی‌ها در بازارها درباره جنگ تعرفه‌یی دونالد ترامپ، رئیس‌جمهور ایالات متحدهٔ آمریکا، افزایش یافته بود، دالر به پایین‌ترین سطح خود در سه سال اخیر سقوط کرد. لاگارد تأکید کرد که سیاست‌های اقتصادی واشنگتن موجب شده است که سرمایه‌گذاران جهانی به وابستگی خود به دالر بازنگری داشته باشند. تسلط دالر همچنین به دلیل نگرانی‌ها از بدهی فزاینده امریکا و استفاده سیاسی واشنگتن از دالر برای تحریم‌ها و مسدودسازی دارایی‌ها، بیش از پیش زیر سؤال رفته است. بر اساس این گزارش، یورو نیز با مشکلات مشابهی روبه‌رو است. از زمان اعمال تحریم‌های غرب علیه روسیه در واکنش به جنگ اوکراین در سال 2022، مسکو و شرکای تجاری آن به‌طور فزاینده‌ای استفاده از دالر و یورو را کنار گذاشته و به ارزهای ملی روی آورده‌اند. داده‌های رسمی روسیه نشان می‌دهد که ۹۰ درصد تجارت روسیه با اعضای گروه بریکس در سال گذشته با ارزهای داخلی انجام شده است. با



وجود این مسائل، لاگارد از یک «فرصت طلایی» برای افزایش استفاده از یورو در معاملات جهانی سخن گفت و به نقش سیاست‌های تجاری غیرقابل‌پیش‌بینی دولت ترامپ در افزایش نگرانی سرمایه‌گذاران اشاره کرد. وی افزود: تحولات جاری، بستر را برای لحظه جهانی‌شدن یورو فراهم کرده است. اما یورو به‌صورت خودکار به سلطه (بر بازار) نمی‌رسد؛ باید برای آن بجنگد. لاگارد تأکید کرد که اتحادیهٔ اروپا برای نزدیک‌شدن به جایگاه دالر، باید بازار واحد خود را تکمیل، انسجام قانونی را تقویت، و نظام‌های مالی داخلی را اصلاح کند. وی در ادامه تصریح کرد که افزایش استفاده از یورو در صورت حساب های تجاری بین‌المللی، بهبود سامانه‌های پرداخت بیرون مرزی و توسعهٔ پشتیبانی نقدینگی تحت رهبری بانک مرکزی اروپا، از دیگر اقدامات لازم در این زمینه هستند. این مقام اروپایی همچنین بر ضرورت سرمایه‌گذاری مشترک بیشتر در بخش‌های مختلف از جمله بخش دفاعی برای تقویت جایگاه یورو تأکید کرد و گفت: اگر می‌خواهیم نقش جهانی یورو رشد کند، باید توان دفاعی قوی‌تری داشته باشیم. با این حال، بعید است که یورو در کوتاه‌مدت بتواند جایگاه دالر را به

چالش بکشد. بناً بر آمار صندوق بین‌المللی پول، سهم یورو در ذخایر ارزی جهانی 20 در صد است، در حالی‌که سهم دالر 57.3



درصد می‌باشد. با اینکه سهم دالر به پایین‌ترین سطح خود در سه دهه اخیر رسیده، اما همچنان ارز غالب در ذخایر بین‌المللی باقی مانده است.

**تېره میاشت د اوسپنې پټلۍ له لارې نږدې ۳۳۳زره ټنه انتقالات شوي**

په تېره یوه میاشت کې د اوسپنې پټلۍ له لارې نږدې ۳۳۳ زره ټنه انتقالات ترسره شوي دي. ټولګټو چارو وزارت ویلي، چې تېره میاشت د حیرتان، آقینې او تورغونډۍ اوسپنې پټلیو له لارې ۳۳۲ زره ۸۳۷ متریک ټنه توکي لېږدول شوي دي. په یادو توکو کې ۱۶ زره او ۷۷۲ ټنه توکي صادر شوي. دغه وزارت وايي دوی د هرې ورځې په تېرېدو د خپلو چارو د لا پراختیا او ښه والي لپاره هڅه کوي او موخه یې دا ده چې د هېواد سوداګرو ته ټول اړین امکانات برابر کړي او معیاري چوپړتیاوې وړاندې کړي.

**سوداګرۍ وزارت: هڅه کوو د ایران او ترکیې له لارې اروپايي بازارونو ته د غالیو صادرات وکړو**

د صنعت او سوداګرۍ وزارت خبر ورکړی، چې هڅه کوي د افغانستان غالۍ تر دې وروسته د پاکستان پر ځای د ایران او ترکیې له لارې اروپايي بازارونو ته صادرې کړي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت وياند ويلي، چې له کلونو راهیسې پاکستان د افغانستان د غالیو پر وړاندې ستونزې جوړولې، چې دوی اوس هڅه کوي د صادراتو بدیلې لارې ورته برابرې کړي. د نوموړي په وینا، یاد وزارت له ترکي چارواکو غوښتي چې د افغانستان پر غالیو مالیې کمې کړي، ترڅو افغان سوداګر وکولای شي غالۍ ترکیې او بیا اروپايي بازارونو ته ولېږي. ایراني رسنیو راپور ورکړی، چې د افغانستان غالۍ به لومړی ایران بیا ترکیې او له هغه ځایه اروپايي بازارونو ته ولېږل شي.



**منابع:**

۱- راشاتودی، ۳۱ ذوالقعدة الحرام ۱۴۴۶

۲- سپوږمی راډیو ۱۴۴۶، ذولحجه الحرام ۵

# مالي شمولیت څنګه په منځنۍ آسیا کې فرصتونو او دندو رامنځته کولو ته لاره پرانیزي

(دا مقاله د پیسو نړۍوال صندوق له ویبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)

عزیزه چې د ازبکستان په سویل کارشي ښار کې د پرچون پلورنې یوه کوچنۍ سوداګره ده، یوه هیله یې درلوده: چې کاشکې هغې ډېرې پیسې درلودې چې د کالیو ګنډلو دویم ماشین یې پېرلی وای او د خپلې ګاونډۍ لور یې په کار ګمارلې وه او خپل کاروبار یې پراخ کړی وای. خو دا هیله یې پوره کولای نشوه، ځکه چې هغې د پور اخیستلو مخینه، تضمین او د عوایدو کوم رسمي سند نه درلود، او ډېری معاملې یې په نغدو ترسره کېدلې. له همدې امله، عزیزې د مالي سیستم لپاره یوه ناپېژندل شوې څېره وه او ورته هیڅ پام نه کېده.

مدینه چې د تاشکند سیمې یوه بله سوداګره او د یوه کوچني کاروبار مالکه وه، له ورته برخلیک سره مخ شوې وه. کله چې ورته یو زنځیره یې ستر پلورنځي له چاپیریال ساتنې سره برابر د بسته بندۍ د چمتو کولو د ترون وړاندیز وکړ، نو هغې کولای شول چې خپل میاشتنی عاید دوه برابره کړي. خو هغې دا وړاندیز رد کړ. ولې؟ ځکه چې هغې نشو کولای چې د اومه موادو د پېرلو لپاره لنډ مهاله پور ترلاسه کړي. مدینه د کار کولو، محصول او د تقاضا له کمښت سره مخ نه وه، خو له بده مرغه پور ته یې لاسرسی نه درلود.

د عزیزې او مدینې کیسې د هغو میلیونونو ښځینه وو متشبثینو استازیتوب کوي چې نه یوازې په منځنۍ آسیا، بلکې د نړۍ په هر ګوټ کې له ورته خنډونو سره مخ دي. که دا ډول کیسې په میلیونونو حساب کړو، نو دا به په ډاګه شي چې څومره ستر



استعدادونه، پټ ظرفیتونه او اقتصادي فرصتونه بې ځایه پاتې شوي دي. نو پوښتنه دا ده: چې موږ څنګه کولای شو دا وضعیت بدل کړو او د عزیزې او مدینې کوچني او لوی خوبونه رښتیا کړو؟

د حل لارې یې دومره پېچلې نه دي، لکه څنګه چې ښکاري؛ خو دوه مهمې برخې لري: لومړۍ برخه، د اشخاصو د پیاوړي کولو لپاره مالي شمولیت چټک کول؛ دویمه برخه، تمویل او پانګې ته د سوداګریو (کوچنیو کاروبارونو) د لاسرسي برابرول. ښه خبره دا ده چې موږ د دې کار لپاره حل لارې لرو؛ خو اوس وخت رارسېدلی چې خپلې هڅې څو چنده پراخې کړو.

خو دا کار به څه ته اړتیا ولري؟

**لومړۍ : په پراخه کچه نوښت**

په وروستیو کلونو کې د مالي شمولیت لید لوری بشپړ شوی او د ښه والي په لور روان دی. مالي نوښتونو لکه د تمویل بیا ورکړې څرنګوالي د نمرو بدیل ماډلونه، د ډیجیټلي پور ورکړې پلیټ فارمونه او د معلوماتو پر بنسټ د خطر ارزونې وسایل، مالي چارو ته د خلکو لاسرسی آسانه کوي. د راکړې ورکړې معلوماتو، د موبایل له لارې ادواینو، او د نا دودیزه تمویل له مخینې (سابقې) څخه په ګټه اخیستنې سره، دې نوښتونو د بې کاره متشبثینو، په ځانګړې توګه د ښځو په مشرۍ تصدیو/ سوداګریو لپاره د تمویلاتو پر وړاندې خنډونه له منځه وړي دي. سیمې ته په وروستي سفر کې مو په مرکزي آسیا کې له لومړي تاجیک (د نوي جوړ شوي شرکت له بنسټګر) سره د نړۍ د پانګونو له سترو شرکتونو څخه د پانګې د جلبولو لپاره ولیدل. دا شرکتونه له مصنوعي ځیرکتیا څخه تمویلاتو ته د لاسرسي لپاره کار اخلي. د یادونې وړ ده چې نوښت هیڅ ډول پولې یا محدودیتونه نه پېژني.

د مرکزي آسیا هېوادونو د پانګې د لاسرسي په ښه والي کې یو لړ پرمختګونه درلودلي دي، خو لا هم ډېر کار ته اړتیا ده. د بېلګې په توګه، په ازبیکستان کې یوازې ۱۹ سلنه کوچنۍ سوداګرۍ له مالي تمویلاتو څخه ګټه پورته کوي او په ټوله سیمه کې په ځانګړې ډول د ښځو، ځوانانو او کلیوالو ترمنځ د ډیجیټلي ادواینو بشپړ ظرفیت تر اوسه پورې نه دی کارول شوی. دې کار مرکزي آسیا د پراخو نوښتونو لپاره پر مناسبې آزمایښتي فضا بدله کړې ده. که چېرې د ډیجیټلي ادواینو کارونه پراخه شي، نو دا چاره به نه یوازې په نویو غوړېدونکو برخو لکه په ګیګ اقتصاد کې د کار فرصتونه رامنځته کړي، بلکې د ځوانانو د جذب لپاره به هم یوه اغېزناکه وسیله وي. سربېره پر دې، دا به د برېښنایي سوداګرۍ او ډیجیټلي بازارونو له لارې دودیزو سکتورونو ته د بازار د لا پراخ لاسرسي زمینه برابره کړي او له دې لارې به د کار موندنې نوي فرصتونه هم رامنځته شي.

**دویمه برخه: د سوداګرۍ لپاره یو مناسب چاپېریال**

د ډیجیټلي ادواینو پراختیا لپاره داسې پالیسي جوړوونکو ته اړتیا لیدل کېږي چې د لګښت کوونکو د ملاتړ ترڅنګ د خصوصي سکتور ملاتړ هم وکړي. دا موخه یوازې هغه مهال ترلاسه کېدای شي چې د مخابراتي سکتور آزادي تأمین شي، عصري او پیاوړې ډیجیټلي زیربناوې موجودې وي او د سایبري امنیت اغېزناک سیستم فعال وي. سربېره پر دې، د لوړ خطر لرونکو پورونو د فعالولو لپاره باید د پور د قسمي تضمینونو میکانیزمونه وکارول شي چې له مخې یې حکومت د پور ورکوونکو ترڅنګ د زیان د جبران یوه برخه پر غاړه

اخلي. دا ډول میکانیزمونه کوچني او منځني کاروبارونه پیاوړي کوي او مالي سرچینو ته د هغوی د لاسرسي زمینه برابروي. د هند په څېر هېواد کې، ډیجیټلي پېژندپاڼې د مالي شمولیت په پراخولو کې خورا مهم رول لوبولی دی. له همدې امله، اړینه ده چې له بریالیو نړیوالو تجربو څخه زده کړه وشي او دا تجربې د هېواد له واقعي شرایطو سره سمې عیارې او پلې شي.

**دریمه برخه: لېوالتیا او عمل**

په دې برخه کې د نړیوال بانک ډله یو داسې پروګرام تر لاس لاندې نیسي چې موخه یې د اشخاصو او د کوچنیو او منځنیو متشبثینو لپاره پانګې او ډیجیټلي اداینو ته د لاسرسي زیاتوالی دی. زموږ موخه د نړیوال بانک له بودجې څخه د پورونو او خصوصي پانګې له کارولو سره د سیمې په یو شمېر هېوادونو کې اشخاصو ته زرګونه نوې او ښې دندې رامنځته کول دي. همدارنګه موږ چمتو یو چې د عامه او خصوصي سکتور ټولې شته وسیلې او حل لارې په کار واچوو، تر څو د مدینې او عزیزې په څېر متشبثینو ته د خپلو کاروبارونو د پراخولو، پرمختګ او دوامدارې ودې لپاره لا ښه زمینه برابره کړو.

پراخ بدلون هغه مهال امکان لري، کله چې ډیجیټلي اداینې پراختیا ومومي، د تمویلاتو بازارونه خوندي او له خطره خلاص شي، د پانګې برابرولو لپاره ملاتړ کوونکي جوړښتونه (ایکو سیستمونه) رامنځته شي او د سیمې په کچه ګډ بازارونه جوړ شي چې د پراخ اغېز او مطلوبې ودې زمینه برابره کړي. تصور وکړئ چې مدینه، په پوره ډاډمنتیا سره له یو زنځیره یي ستر پلورنځي سره د تړون لاسلیک مني، ځکه پوهیږي چې یوه مالي اداره یې تر شا ولاړه ده او د خپلو ژمنو د پوره کولو ترځنګ د کاروبار پراخولو لپاره ورڅخه ملاتړ کوي. یا دا چې عزیزه د کالیو ګنډلو دویم ماشین پېري، د خپل ګاونډي لور په دنده ګماري او ښایي نور کسان هم ورسره پر دنده وګماري. اوس وخت رارسېدلی چې هغه ناڅرګند واقعیتونه ښکاره کړو او په دې بهیر کې میلیونونه دندې او فرصتونه رامنځته کړو.

**لیکوال:** انا بیېرډه او انتونیلا بسانی
**ژباړونکی:** صفي احمد ناصري
د افغانستان بانک د ژباړې د بورډ غړی

---

سرچینه:

1- **World Bank. (2024, July 1).** *How financial inclusion in Central Asia drives opportunity and jobs*. World Bank Blogs. https://blogs.worldbank.org/en/europeandcentralasia/how-financial-inclusion-in-central-asia-drives-opportunity-and-j



# دو پول، دو سرنوشت نگاهی به ارزش پول ملی افغانستان

با مقایسه نمودن دو بانکنوت ۵۰ واحدی، یکی افغانی و دیگری روپیه هندی، در نگاه اول ممکن است تنها با دو قطعه کاغذ روبرو شویم، اما در حقیقت، این دو نمونه بازتاب دهنده روایت های اقتصادی کاملاً متفاوتی هستند؛ یکی متعلق به اقتصادی در حال ظهور در سطح جهانی و دیگری مربوط به کشوری که سال ها با بحران روبرو بوده اما همچنان با ثبات و افتخار مسیر خود را ادامه داده است.

افغانستان با وجود بیش از پنج دهه ناپایداری سیاسی و اقتصادی، توانسته است پول ملی خود را از نظر ارزش و اعتبار حفظ کند. این موفقیت، نتیجه اجرای مدیریت محتاطانه پولی، استقلال بانک مرکزی و انتخاب سیاست های سنجیده بوده است؛ اقداماتی که در مجموع موجب شده اند افغانی از افت چشمگیر و بی اعتمادی عمومی در امان بماند. این روند به حدی پیش رفته است که نه تنها در سطح داخلی بلکه در سطح بین المللی نیز توجه اقتصاددانان و رسانه ها را به خود جلب کرده و موجب تحسین آن ها شده است.

در بسیاری از گفت و گوهای اقتصادی منطقه یی، پول افغانی به عنوان مرجعی برای مقایسه با ارز کشورهای همسایه در نظر گرفته می شود. انتشار تصاویر مقایسه ای توسط کاربران منطقه ای و بین المللی نیز نشان می دهد که چقدر جایگاه افغانی به عنوان ابزار اقتصادی با ثبات مورد توجه قرار گرفته است.





نکته مهم تری که توجه ها را جلب می کند، برابری نسبی ارزش افغانی و روپیه هندی است، آن هم در حالی که هند با تولید ناخالص داخلی بیش از ۳.۷ تریلیون دالر در سال ۲۰۲۴، صادرات گسترده، صنعت داروسازی پیشرفته، اقتصاد دیجیتال پویا و جمعیتی بیش از یک میلیارد نفر، به عنوان یکی از قدرت های اقتصادی بزرگ جهان شناخته می شود. شاید در نگاه نخست، مقایسه پول افغانی با روپیه هندی قدری بلندپروازانه به نظر برسد، اما این مقایسه حاوی پیام ارزشمندی است؛ پیامی که مبنی بر توانایی افغانستان در ایجاد اعتماد عمومی و اجرای سیاست های کارآمد اقتصادی، در شرایطی به مراتب دشوارتر می باشد.

در حالی که هند از مزایای تنوع صادراتی، بازار داخلی عظیم و زیرساخت های صنعتی گسترده برخوردار است، افغانستان هنوز با چالش های بازسازی اقتصادی و وابستگی به واردات مواجه است. با این وجود، پایداری ارزش افغانی، اعتماد مردم و تدبیرهای پولی دقیق، آن را در جایگاهی بالاتر از ارزهای برخی کشورهای دیگر قرار داده است.

قدرت واقعی یک پول ملی در شاخص های مانند اعتماد مردمی، شفافیت سیاست گذاری و سازگاری با نیازهای زمان، نهفته است. در افغانستان، ترجیح مردم به استفاده از افغانی در معاملات روزمره، به جای اسعار، گواهی بر همین اعتماد است. بانک مرکزی نیز با حفظ استقلال و عملکرد حرفه یی، توانسته است در برابر فشارهای خارجی و نوسانات منطقه یی مقاومت قابل توجهی نشان دهد.

اعتماد عمومی، گرچه یک دارایی غیرملموس است، اما تاثیر مستقیم آن بر کاهش نوسانات بازار، افزایش سرمایه گذاری داخلی و ثبات قیمت ها انکار ناپذیر است. همین اعتماد ستون اصلی پایداری و اعتبار روزافزون افغانی در فضای اقتصادی کشور محسوب می شود.

در نهایت، هر پول ملی حامل یک روایت تاریخی و هویتی است. افغانی اکنون به نماد خِرد، ایستادگی و اعتماد مردمی مبدل شده است؛ پولی که در برابر دشواری ها مقاومت کرده و ارزش ملی خود را حفظ کرده است. حتی اگر مقایسه با روپیه هندی تفاوت ها را برجسته سازد، آن چه اهمیت بیشتری دارد، دستآوردی است که از دل بحران ها و با تکیه بر تدبیر و مشارکت ملی به دست آمده است.

**نویسنده: محمد کاظم سروری**

**مدیر ارتباط رسانه ها د افغانستان بانک**

منابع:

1- Nazir, S., Teeli, A. A., & Sarathlal, P. S. (2024, October 6). Afghani's rise: How Afghanistan's currency defied odds. Policy Circle. https://www.policycircle.org/opinion/afghani-difies-odds-dollar-re

2- International Monetary Fund. (2025, February 26). IMF Executive Board concludes 2024 Article IV consultation with India [Press release]. https://www.imf.org/en/News/Articles/2025/02/26/pr25045-india-imf-executive-board-concludes-2024-article-iv-consultation-with-india

3- Fortune India. (2023, December 19). IMF reclassifies India's exchange rate regime on forex interventions. https://www.fortuneindia.com/macro/imf-reclassifies-indias-exchange-rate-regime-on-forex-interventions/115146

# داف پی (AFpay)
# کارت په کارولو سره نور اړتیا نلرئ چې له ځان سره پیسې وګرځوئ.



# اسلامي مالي نظام او ځانګړتیاوې یې

**سریزه**

د اسلام مبارک دین یو بشپړ دین دی چې د ټولنیز ژوندانه د هرې برخې لپاره لازمې او ښې لارې چارې لري. د هرې برخې د اصولو مطابق ټولنیز ژوند برابرول د دې سبب کېږي چې دنیاوي او اخروي نېکمرغۍ ترلاسه کړو او ژوند مو له برکتونو او پرمختګونو څخه ډک شي. څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه د اسلام مبارک دین د ټولنیز ژوند هرې برخې ته شامل او کامل دین دی او هره برخه یې په خورا ښه ډول تشریح کړې ده. د ټولنیز ژوندانه یوه مهمه برخه اقتصاد دی چې تل په لویه کچه هېوادونه او په ټیټه کچه کورنۍ هلې ځلې کوي چې ښه اقتصاد او هوسا ژوند ولري. د ټولنیزو علومو د دې علم (اقتصاد) په اړه هم د اسلام مبارک دین لازمې لارښوونې لري چې په دې مقاله کې مو د اسلامي اقتصاد یو اړین مبحث چې اسلامي مالي نظام دی په لنډ ډول تر بحث لاندې نیولی. په پیل کې مو د اقتصادي نظامونو په اړه وضاحت ورکړی، بیا مو د اسلامي مالي نظام او د اسلامي مالي نظام اصول روښانه کړي او په پای کې مو د اسلامي مالي نظام وسایل په لنډ ډول بیان کړي دي.

**اسلام او اقتصاد**

د بشریت له لومړیو څخه تر اوسه انسانان د خپلو غوښتنو او اړتیاوو د پوره کولو په هڅه کې دي، او دا هڅه کوي چې خپلې ټولې غوښتنې ترلاسه او آرامه او سوکاله ژوند ولري. د یادې سوکالۍ د ترلاسه کولو لپاره، انسانان بېلابېلو اقتصادي فعالیتونو باندې لاس پورې کوي ترڅو خپلو مطلوبو موخو ته په پوره ګټورتیا سره ورسیږي. د وخت په تېرېدو سره په بېلابېلو زمانو کې د بېلابېلو اقتصادي فعالیتونو د ترسره کولو په موخه اقتصادي نظامونه جوړ او پلي شول، په ټوله کې اقتصادي نظامونه په وضعي او غیر وضعي اقتصادي نظامونو ویشل شوي دي، په وضعي اقتصادي نظامونو کې پانګوال اقتصادي نظام، د مرکزي پلان اقتصادي نظام او مختلط اقتصادي نظام شامل دي. په داسې حال کې چې په غیر وضعي اقتصادي نظام کې اسلامي اقتصادي نظام شامل دی. مخکې له دې چې خپله



اصلي موضوع پیل کړو، په یادو اقتصادي نظامونو باندې په لنډ ډول رڼا اچوو:

**۱ – پانګوال اقتصادي نظام:** هغه نظام دی چې د بازار پر قوتونو ولاړ دی. د تولید وسایل پکې په خصوصي ملکیت کې راتللی شي او د اقتصادي فعالیتونو لپاره پکې مطلقه آزادي شتون لري.

**۲ – د مرکزي پلان اقتصادي نظام:** هغه اقتصادي نظام دی چې د مرکزي دولت پر پلان ولاړ دی او د تولیداتو وسائل پکې په خصوصي ملکیت کې نه راځي، ټول تولیدي وسائل په دولت پورې اړه لري.

**۳ – مختلط اقتصادي نظام:** مختلط اقتصادي نظام د اقتصاد کوم ځانګړی نظام نه دی، بلکې د پانګوال او د مرکزي پلان نظامونو څخه ګډ یو ډول نظام دی، یعنې هغه هېوادونو چې پانګوال اقتصادي نظام یې پلي کړی دی او بیا له ځینو اقتصادي ستونزو سره مخ شوي دي نو د ستونزو د حلولو لپاره یې د مرکزي پلان اقتصادي نظام ځینې اصول پلي کړي دي. همدارنګه، هغو هېوادونو چې د مرکزي پلان اقتصادي نظام یې پلی کړی دی، د خپلو نیمګړتیاوو د اصلاح لپاره یې د پانګوال اقتصادي نظام ځینې اصول پلي کړي دي. د بېلګې په ډول، په پانګه وال اقتصادي نظام کې تولیدي وسائل یواځې په خصوصي ملکیت کې راتللی شي په داسې حال کې چې په مرکزي پلان اقتصادي نظام کې تولیدي وسائل په دولت پورې اړه لري. اوس هغو هېوادونو چې پانګوال نظام یې پلی کړی دی دولتي ملکیت ته یې چې د مرکزي پلان اقتصادي نظام یو اصل دی هم په خپل اقتصادي نظام کې ځای ورکړ چې په دې سره یې پانګوال اقتصادي نظام په مختلط اقتصادي نظام بدل شو. همداشان، هغو هېوادونو چې د مرکزي پلان اقتصادي نظام یې پلی کړی وو، په خپل نظام کې یې خصوصي ملکیت ته هم ځای ورکړ چې په دې سره یې د مرکزي پلان اقتصادي نظام په مختلط اقتصادي نظام بدل کړی او مختلط اقتصادي نظام نوم یې پرې ایښی دی.

په داسې حال کې چې غیر وضعي اقتصادي نظام چې د اسلامي اقتصادي نظام څخه عبارت دی، هغه اقتصادي نظام دی چې د دیني احکامو او شرعي اصولو په رڼا کې د ځانګړو اسلامي قواعدو په اساس د شتمنۍ ګټل، لګښت کول او وده تنظیموي. د اسلام مبارک دین یو بشپړ او هرې برخې ته شامل دین دی او د ټولنیز ژوندانه هره برخه یې په خورا ښه ډول تشریح کړې ده، چې د هغې له ډلې څخه یو اقتصاد دی. دا چې اسلامي اقتصاد ډېر لوی مبحث دی، په دې لیکنه کې مو یواځې په اسلامي مالي نظام باندې رڼا اچولې ده. مخکې له دې چې اصلي موضوع ته راشو د غرب مالي نظام په اړه په لنډ ډول وضاحت ورکوو.

**د غرب مالي نظام او ګټه**

په غربي مالي نظام کې ګټه (سود) یو له کلیدي او اساسي مفاهیمو څخه ګڼل کېږي، یعنې د غربي مالي نظام لومړنۍ او اساسي موخه ګټه یعنې سود دی. د دې نظام پوهان وایي چې پیسې زماني ارزښت لري او هغه څوک چې په خپل اختیار کې پیسې لري او هغه مصرف نه کړي او په پانګونه یې واچوي حق لري چې په راتلونکي کې د اصلي مبلغ څخه ډېرې پیسې وغواړي. دې ته په کتو سره موږ ویلی شو چې په غربي مالي نظام کې اساسي موخه ګټه ده.

**اسلامي مالي نظام او په ګټه او تاوان کې یې شریکوالی**

لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، اسلامي اقتصادي نظام هغه نظام دی چې د دیني احکامو او شرعي اصولو په رڼا کې د شتمنۍ ګټل، لګښت کول او وده ورکول تنظیموي، یعنې د اسلامي اقتصادي نظام ټول مسائل د قرآن کریم او نبوي سنتو

په اساس تنظیم شوي دي، چې د ټولنې د وګړو ترمنځ په هره معامله کې په عدالت امر کوي او له نامشروع ګټې او سود څخه منع کوي. نو ځکه په اسلامي مالي نظام کې په مالي معاملاتو کې ټول سهم لرونکي د هوکړې مطابق په ګټه او تاوان کې ښکېل دي، او هیڅ سهم لرونکی نه شي کولای چې د کړې هوکړې خلاف کړنه ترسره کړي. همدارنګه، په اسلامي مالي نظام کې د هر پانګوال شرایطو ته په کتو ګټور وسایل لري یعنې ځینې پانګوال د شراکت کاروبار ترسره کوي، ځینې مضاربت باندې خپل کاروبار مخته وړي او ځینې بیا په حسنه پور او نورو اسلامي مالي وسایلو باندې خپلې مالي ستونزې حلوي او د شریعت په چوکاټ کې حلاله ګټه ترلاسه کوي. هېره دې نه وي چې د اسلامي مالي چارو پوهان لاندې اصول له قرآن کریم او نبوي احادیثو څخه په استنباط د اسلامي مالي نظام لپاره وړاندې کوي:

**۱ – په ګټه او تاوان کې شریکوالی:** په مالي معاملاتو کې کله چې یو څوک د اسلامي مالي نظام پربنسټ له بېلابېلو لارو څخه ګټه پورته کوي، د بېلګې په ډول که چېرې د مشارکت په اساس ځینې کسان غواړي چې یو ګډ کاروبار پرمخ یوسي نو په دې صورت کې به ګټه او تاوان د ښکېلو غړو ترمنځ د شوې هوکړې پر بنسټ ویشل کېږي او ګټه به معلومه وي ځکه چې د ګټې مجهول والی شراکت فاسدوي. همدارنګه، هیڅ سهم لرونکی نه شي کولای ګټه او تاوان په خپله خوښه د شریکانو ترمنځ وویشي. په مضاربت کې به هم ګټه د مضارب او پانګه لرونکي ترمنځ د هوکړې پر بنسټ ټاکل کېږي او معلومه به وي،که چیرې کاروبار ته زیان واوښت په داسې حال کې چې مضارب غفلت نه وي کړی، اوښتی تاوان د پانګه لرونکي پر غاړه دی.

**۲ – د سود حرمت:** د اسلامي مالي نظام یو مهم اصل د سود حرمت دی، یعنې د اسلام مبارک دین سود په مطلق ډول حرام ګرځولی دی او د سود خلاف یې د داسې وعید خبر ورکړی دی چې هیڅ نرمښت پکې نه لیدل کېږي. جوته ده چې سود په استهلاکي پور کې وي، یا په استثماري پور کې او یا هم د راکړې ورکړې په نورو ترونونو کې، په هر ډول معامله کې سود په قرآن کریم، احادیثو او اجماع سره په مطلق ډول حرام دی. ځکه چې الله تعالی د البقرې سورة له ۲۷۹-۲۷۸ آیت کې داسې فرمایلي دي: ژباړه (ای مؤمنانو! له الله ووېرېږئ او د سود هغه برخه پرېږدئ (چې د چا پر ذمه) پاتې وي، که مؤمنان یاست، بیا هم که داسې ونه کړئ، نو د الله او د هغه د رسول له لوري د جنګ اعلان واورئ او که (له سود څخه) توبه وباسئ، نو تاسې لره مو رأس المال (پانګه) ده، نه به تاسې پرچا تېری کوئ او نه به پرتاسې تېری کېږي). له دې آیت کریمه څخه څرګندېږي چې د سود د حرمت په اړه څومره قوي وعید راغلی، یعنې سود اخیستل له الله تعالی او د هغه له رسول صلی الله علیه و سلم سره د جنګ اعلان دی، چې د اسلامي مالي نظام د یو مهم اصل په توګه پېژندل شوی دی.

**۳ – د غرر حرمت:** د اسلامي مالي نظام یو اصل د غرر حرمت دی، څرنګه چې د غرر کلمه په لغت کې تېرایستلو، بې ځایه هیلې او غیر یقیني حالت ته وایي او په اصطلاح کې هغه معاملې ته ویل کېږي چې د ښکېلو غاړو (بائع او مشتري) معاوضه (مبیعه یا ثمن) له غیر یقیني حال سره مخامخ وي. د اسلام مبارک دین ټولې هغه معاملې ناروا ګرځولې دي چې پکې غرر (غیر یقیني حالت) شتون ولري، ځکه داسې ټولې معاملې تاوان یا هم اټکل له ځان سره لري چې له امله یې حقیقي رضایت او خوښي له منځه ځي.

**۴ - د قمار حرمت:** د اسلامي مالي نظام له اصولو څخه یو مهم اصل د قمار حرمت دی او قمار هغې لوبې ته وایي چې دواړه

خواوې په دې هوکړه کوي چې بايلونکی به ګټونکي ته يو څه ورکوي، د اسلام مبارک دين د قمار هر ډول حرام کړی دی. الله جل جلاله فرمايي: ژباړه( ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، بېشکه شراب، قمار(ميسر)، ډبرې(چې ترڅنګ يې د بتانو د خوشحالۍ په موخه څاروي حلالوئ) او د ويش غشي پليتي او د شيطان کار دی، نو ځان ترې وساتئ، ښايي بريالي شئ). (المائدة :۹۰).

هېره دې نه وي چې د ميسر کلمه عامه ده او د قمار هر ډول پکې راځي.

د اسلامي مالي نظام چې د شريعت پر اصولو ولاړ دی او په معاملاتو کې په عدل امر او له حرام څخه منعه کوي، بېلابېلې وسيلې لري چې په لاندې ډول يې په لنډ ډول روښانه کوو:

**۱ – مشارکت:** مشارکت د اسلامي مالي نظام يوه اړينه او عمده لاره ده، چې په ترڅ کې يې له يو څخه ډېر کسان خپله پانګه سره شريکوي او په ګډه يو کاروبار ترسره کوي. همدارنګه، کومه ګټه چې ترلاسه کوي هغه د شريکانو ترمنځ ګډه او د هوکړې پر بنسټ يې ويشي، که چېرې کاروبار ته تاوان اوښتی وي نو هر شريک به د خپل سهم په اندازه تاوان ګالي.

**۲ – مضاربت:** له يو څخه د زياتو حقيقي او حکمي اشخاصو ترمنځ داسې تړون چې د يوه لوري به پانګه او د بل لوري به کار او کوښښ وي او ګټه به يې ترمنځ شريکه وي، که چېرې د مضارب له تقصير څخه پرته کاروبار تاوان کړی وي نو د پانګې مالک به اوښتی تاوان ګالي.

**۳ – مرابحه:** په لغت کې په ګټه د توکي پلورلو ته وايي او په اصطلاح کې يو توکی په خپله بيه او ځانګړې ګټې باندې پلورلو ته مرابحه وايي.

**۴ – اجاره:** په لغت کې کرايې او مزد ته وايي او په اصطلاح کې تر ټاکلې نېټې د معلوم عوض په مقابل کې د منافعو خرڅولو ته اجاره وايي.

**۵ – سلم بيعه:** په لغت کې د ورکولو او پور په معنا ده او په اصطلاح کې هغې بيعې ته وايي چې پېرونکی يې پلورونکي ته د توکي ټوله بيه نغده ورکوي او توکي په راتلونکي کې ترلاسه کوي.

**۶ - استصناع:** په لغت کې د يو شي د جوړولو غوښتنې ته وايي او په اصطلاح کې د ځانګړي شي په جوړولو کې په ځانګړې توګه د کاريګرو د کار (حرفې) غوښتلو ته استصناع وايي.

په پای کې ويلای شو چې د اسلام مبارک دين د بشريت لپاره يو بشپړ دين دی چې د ټولنيز ژوند هرې برخې ته شامل دی او د هرې برخې په اړه يې داسې په صراحت توضيحات ورکړي دي چې بل هيڅ دين نه دي ورکړي، چې له هغې جملې څخه يو يې اسلامي اقتصاد دی، که څه هم په اسلامي اقتصادي نظام کې خورا ډېر موضوعات شامل دي چې موږ يې په دې مقاله کې پر مالي برخه باندې په مختصر ډول رڼا واچوله او ځينې مهم مسايل، لکه: اقتصادي نظامونه، د اسلام مالي نظام اصول او لارې چارې مو په لنډ ډول روښانه کړې.

**ژباړه او راټولونه: نهضت الله ستانکزی**

**د افغانستان بانک د سويل ختيځ زون اقتصاد پوه**

---

سرچيني:

۱ : اسلامي اقتصاد او بانکوالي، کتاب،حقاني، مفتی عبدالحق ،۱۳۹۷

**2- Corporate Finance Institute. (n.d.).** *Islamic finance*. Corporate Finance Institute. Retrieved July 2, 2025, from https://corporatefinanceinstitute.com/resources/career-map/sell-side/capital-markets/islamic-finance/

# بانکداری اسلامی؛ مسیر رشد و ترقی کشور را فراهم میکند.



# Afghanistan Institute of Banking and Finance Officially Reopened

June 3, 2025 – Sediqullah Khalid, the first deputy governor of Da Afghanistan Bank, officially reopened the Afghanistan Institute of Banking and Finance (AIBF).

Speaking at the inauguration ceremony, Khalid noted that the establishment of the AIBF is part of DAB's strategic plan, which aims to strengthen both banking and non-banking sectors, promote Shariah-compliant banking, and nurture and empower emerging talent. He highlighted the importance of capacity building in reconstructing and aligning the financial and banking sector with Sharia law.

"The AIBF will facilitate continuous professional development, introduce and implement international banking standards, and support academic research and policy development," Khalid said, adding that through coordination, partnership, and networking, the institute will promote shared responsibility and equip employees of the banking and non-banking sectors with essential skills and competencies.

In addition, representatives from the Microfinance Investment Support Facility for Afghanistan (MISFA) and the Afghanistan Banks Association (ABC) addressed the event and expressed appreciation for the AIBF's reopening. They emphasized that this initiative is a significant step toward strengthening the professional foundations of the country's financial and banking sector.

Following the reopening, the AIBF launched its first training program, beginning with a workshop targeting staff from commercial banks, microfinance institutions, money service providers, and other related sectors. The program aims to enhance professional capacities, improve financial literacy, and introduce participants to international standards and modern methodologies in finance and banking.



# DAB Governor, Chinese Ambassador Meet on Financial and Banking Collaboration

The acting governor of Da Afghanistan Bank, Noor Ahmad Agha, met with the Chinese ambassador to Kabul, Zhao Xing, to discuss enhancing financial and banking collaboration between the two countries.

The Governor of Da Afghanistan Bank referred to China as one of Afghanistan's good and significant neighbors. He added that Da Afghanistan Bank was able to establish effective ties with the accredited international financial and banking institutions over the past four years, reaffirming the Bank's commitment to further strengthening these relations.

Praising China's collaboration, particularly in the economic sector, the DAB Governor further stated that Da Afghanistan Bank is working to expand technical assistance in the financial and banking sectors, intending to create a more secure and enabling environment for investment to facilitate trade, and undertaking practical measures in capacity building and other related areas.

He emphasized that the ultimate goal of these efforts is to create a conducive environment for domestic investment, facilitate trade for businessmen, provide better financial and banking services, and deliver these services to all parts of the country.

Assuring his country's readiness to expand ties with Afghanistan, the Chinese ambassador to Kabul, Zhao Xing, stated that China seeks to play a positive role in Afghanistan's economic reconstruction. He underscored the importance of further strengthening bilateral relations through deepened and sustained cooperation.

It is worth noting that the meeting was also attended by First Deputy Governor Sediqullah Khaled, who contributed to the discussions on related technical matters.

# جلوگیری از مندرس شدن بانکنوتهای افغانی وجیبه ملی هر افغان است.





بانک The Bank
May 2025
شماره ۲۱۵ - ذوالحجة الحرام - جوزا ۱۴۰۴

مالي شمولیت د پراخې اقتصادي ودې لپاره مهم دی. د مالي خدمتونو د پراختیا په بهیر کې له موږ سره یوځای شئ او په دې برخه کې خپل رول ولوبوئ.

